له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې لس رکعتونه یاد کړي دي

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې وایي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې لس رکعتونه یاد کړي دي: دوه رکعتونه د ماسپښین له لمانځه څخه مخکې، او دوه تري وروسته، او دوه رکعته له ماښام نه وروسته په کور کې، او دوه رکعتونه د ماخوستن نه وروسته په کور کې، او دوه رکعتونه د سهار له لمانځه څخه مخکې. او دا هغه وخت و چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم کور ته به نه ننوت، حفصې راته وویل: کله به چې مؤذن اذان وکړ او سهار به راوخوت، نو دوه رکعته لمونځ به یې وکړ، او په یو بل لفظ کې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به له جمعې څخه وروسته دوه رکعته لمونځ کاوه.

[صحيح دی] [په ټولو روایتونو سره متفق علیه دی]

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما بیانوي چې: هغه نفلي لمونځونه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه یې زده کړي دي لس رکعتونه دي چې راتبه سنتونه ورته ویل کیږي. دوه رکعتونه له ماسپښین څخه مخکې او دوه تري وروسته، او دوه رکعتونه له ماښام نه وروسته په خپل کور کې، او دوه رکعتونه د ماخوستن څخه وروسته په خپل کور کې، او دوه رکعتونه د سهار له لمانځه څخه مخکې، نو لس رکعتونه پوره شول. او د جمعې لمونځ چې دی، نو وروسته تري باید دوه رکعته لمونځ وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3062